انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰٦/۰٤

# زما لوری!

یادونه: د نن نه یولس کاله وړاندی د ۲۰۰۷ ز کال د می په میاشت کی د خبری رسنیو له لاری دا خبر خپور شو چی د « د طلوع تلویزیون د پښتو ځانګی ویانده ( ځانګه آماج) په مرموزه توګه په شهادت ورسیده ». وروسته راته دا پته ولګیده چی ځانګه زما د یوه هم مسلک،دوست او زمونږ په اداره کی د یو ډیر لایق او د نیکو اخلاقو د یوه انجنیر چی محمدربیع آماج نومیده لورده. خدای ج شاهد دی چی په دی غمجنی پیښی می خپګان او خواشینی څو چنده نوره زیاته شوه . څو موده وروسته بیا داسی خبر شوم چی د لور د قتل په تور یی د هغی هغه پلاره چی د زړه په وینو یی را لویه کړی وه، روزلی یی وه او لوړه پوهنه یی ورکړی وه د زندان تورو کوټو ته و واچاوه. دی پیښی ځکه بیخی ډیر و زورولم چی د هغی پلار انجنیر ربیع آماج می د یوه ښه دوست او هم مسلک په توګه له نژدی پیژنده او په دی می قطعن باور نه کیده چی د آماج په څیر یو عالم او د لوی حوصلی خاوند دی داسی یو ناوړه کار او هغه هم د خپلی هغی لور سره چی له ځانه ورته ګرانه وه کړی وی. کلونه تیر شول او ماته دا پته ونه لګیده چی ولی داسی یوه ناوړه پیښه رامنځ ته شوه چی هم (مړ شه او هم پړ). په تیره اونی کی می د ټاند په ډیره ښه ویب پاڼه کی د ښاغلی انجنیرمحمدربیع آماج په خپل قلم د دی غمجنی پیښی څه سر سری کیسه و لوستله او داسی می فکر ته راغله چی که دا ترښه پیښه له تاسو درنو لوستونکو سره هم شریکه شی ممکن د ځوانیمرګی ځانګی د اصلی قاتلینو په پیژندلو او دی جلادانو ته د سزا ورکولو په برخه کی به د غمجن انجنیر آماج او د هغه د کورنی سره څه مرسته وشی. هیله ده چی په غور یی تر اخره ولولی. مننه انجنیر کلیوال

**زما لوري | انجنیر محمد ربي اماج**




زما لوری دغه دی یوره یوولس کالونه له هغی غم لړلي ورځي او پیښي تیر شول چی ته (تانده ځانګه) یی زموږد کور د ګلبڼ څخه و ریژولی او زه لا تر اوسه په دی هیله شپي او روځي تیروم او په لوڅوسترګوهغه خوبونه وینم چی یوه روځ به پدی بیوفا نړی کښی ستا د سپیڅلو وینو سره نیاو وکړم، مګر څه هیله اوڅه خوبونه؟؟؟ اوله چا څخه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

؟؟!! له هغوی  نه چی د واک په گدی ناست اونشه دی ! نه نه ! د هغوی په شتون کی د داسی خوبونو لیدل لکه د لیونی دخوبونو غوندي دی چی مانا نلری.

لوری! د نړی دود اودستور دی چی وایی :

اوس یی یادونه ا فساني ښکاری

داسی دستور د زماني ښکاری

مگرد زماني دغه دستور زما لپاره ندی ! دلته دیوه پلار د زړه په ورانه جونگړه کښی ستا دیادونو ځانگي لاهماغسي تاندي ولاړی دی او هیڅ یی د افسانو ښه نده غوره کړی:

لوري! ستا د یوویشت نیم کلن ژوند ټولي خاطري مي یوه په یوه په زړه او دماغ کی همداسی تازه اوپیچلي نغښتي دی لکه زموږ په کلیوالی دود کی چی کوم سپیڅلی توکی په پاکو ټوکرانو کی نغاړی او د درنښت په دود یی د کوټي په لوړه تاخچه کي ساتی. له هغی روځي چی دسلواغی میاشتی په یخنی کی د کابل ښار کی سیلوته څیرمه د پوهنتون سرک د سنکشانو جومات ته نیږدی په یوه کرایی کورکی د سهار په خره تا خپلی سترگی د لومړی ځل لپاره دی نړۍ ته پرانیستلی اوبیا ترهغه دمه چی د مامورینو کارتي د پنځم سرک په بل کرایی کور کی د ماښام په اووبجو اوپنځلسو دقیقوباندی د هیواد اوستا مورنی پښتو ژبی قسم خوړلو غلیمانو دیوی (۲۵/۶) گرامه سرپي مرمی پوسیله ستاد ژوند ډیوه مړه کړه یوه په یوه می په یاد دی. اوله هغی وروسته بیا دنړی په کچه په فساد کی اتل دولت هغه ناکردی چی د قانون پنامه زموږسره وشوی او لاهم روانی دی هم می ټول نوی نوزی د خاطرو په صند وخچه کی دی.

لوری دا اوږدی کیسی پدی لنډو پانواو کرښو کی نه را لنډیږی، لکه هر پلار ستا د ژوندون تاند نیالگی می د خپل تندی په خولو اوبه کولواومور به د هم لکه یود نده پیژوندونکی چوکیدار په خیر ستاپالنه کوله ،پدی هیله چی زموږد غریبی مگر دغرور او پښتنی هسکی شملی ځوندی به شي اوموږ دواړو به تل په ویښو سترگو دغه خوبونه لیدل چی دغه د ۱۵کلنی کډوالی او مورنی هیواد ته د راستنیدو په ویاړ به موږ خپلي جنگ ځپلي ټولني ته تا غوندی لوستی، دینداره او په پښتنی اود علم اوپوهی په سینگار پسوللی سوغات ډالی کړو اوهمداسی مو هم وکړل.

لوری! په لومړیو کی د د خپل مورنی اوپلرنی هیواد د ژبو(پښتو اودری) سره ستونځي درلودی، مگرتاهم لکه پلار د ډیر ژر بی له توپیره د هیواد په دواړو خوږو ژبو بر لاسی وموند. اوموږ هم ډیرخوښ وو چی زموږ په لاس پالل شوی تانده ځانگه ښه وده کوی او نوروته مثال گرځي

خانگــه بــه نــن سـبا کــی گــل شــی

ما یی په سر کی سري غوټی لیدلی دینه

لوری! ستا په روح کی لکه ستاد کورنی په شانی هیڅرنگه ژبنی توپیر،کرکه اونفرت نه ووا و لکه چی د روځنیو یادونویه کتابچه کی د لیکلی وو

لمن می ډکه ده له کانو څوک پری نه ولمه

په عادتـونـو کـی دا یـو عادت دغره لرمه

اوکله چې د لومړي ځل لپاره د کار وړانديز درته وشو اوزه د بدخشان ولايت په ياوان ولسوالۍ کې په دنده بوخت وم نوما د تيليفونی خبرو اوارزونی په پای کی درته وويل چې لوری! په پښتنۍ ټولنه کی د مور او پلار عزت د لور د پوړنی په پلو پوری غوټه وی اوتا راته وويل چی آغا! زه پوړنی په سرايږدم. نو ستا د مانا داره ځواب څخه وروسته زه په کاليو کی نه ځاييدم.

لوري! کله چې دپوليتخنيک پوهنتون په تالار کی د ځوانانو کنفرانس کی د يوه ګروپ مشرتابه دنده تا ته درکړل شوه نو هر هغه چا چی زه يی پيژندلم ستا د ځيرکتيا، زړورتيا او پوهی ستاينه يی کوله.

لوری! هغه می هم ياد دی چی د بی بی سی راديو د پښتو څانګی مشره خبرياله په تا اوخور پسی د هم زموږ کور ته د موټر سره راغله.او بيا هم لوری د بدمرغه ۲۰۰۷ د همدغی می مياشتی په شروع کی ستا ژوندی مرکه د امريکا غږ آزادی راديو په څپو کی خپره شوه نو زه پدی پوه شوم چی زما هڅو اوهاند نتيجه ورکړه او ته اوس هغی پوړ ته رسيدونکي يي چی علم او مسلکی پوهه په سپيڅلی اسلامی اوافغانی دود وړاندی کړی او هغوی ته چی عصری علوم دفرهنګ او سپيڅلو دودونو په پريښودلو کی لټوی يو غاښ ماتوونکی ځواب شی.مګرا!

لوری زه نه وم خبر چی زموږ د هيواد او ژبی قسم خوړلی غليمان ستا اوستا غوندی نورو په هيواد مينو شتون نشی زغملی! اوبهرنيو ګاونډيو لا د وخته دلته خالی کړيدی او خپل لاسپوڅی يی په حکومتی اډانه کی لګولی دی.

لوری! ته يی رانه په ډيره ناځوانی واخسيتی اود هغی زړه په سر يی برابره ويشتلي وی چی ستا هيواد اوخلکو ته له مينی ډک وو.

## د دی وطن په نصيب نـدی رسيلی خلک
## چی يی مونډلی دی په کاڼويی ويشتلی خلک

لوری! په ما او مورخو د آسمان را ټوټی شو مګر هغه به د نه وی اوريدلی چی: لمدی غوښي اورنه اخلی لور په لور مو ودانګل ،هره دروازه مو وټکوله مګر زموږ اوستا بخت اوبرخليک لکه د پښتو او پښتنو غوندي اسکيرلی او ويده وو. ژبنی، سمتی، ګوندی کينو اود بدو ناولی فساد د دولت بدن ټول مَنتن (خوسا) کړی وو.

لوری د نياو پځای يی زه ستا د وژلو په تور بندی کړم ،هم مرهم پرا! قيامت نوبل څرنګه وی؟

بيلتانه ښي چاری راوکړی!- ځان يی ملا کړو زه يی غل دکلی کړمه

زما په نه شتون کی يی ستا مينه ناکه کورنی تر فشار لاندی نيولي وه چی د نياوغوښتلو نه تير شی. دلته د قاتل آزاد ګرځي اونياو غوښتونکی (متضرر) د بيا محکوم اوچارماری کيږی.

دا جهان قصاب خانه کړ خدای وماته- لاس ترلی پروت په غولی دقصاب يم.

د ګاونډی ملک استخباراتو او تالی څټيو د هر کار تابيا لا د مخه کړی وه . په بنديخانه کی يی زما د وژلو بشپړه تابيا د هماغه څارنوال پوسيله کړی وه کوم چی ستا دقتل د څيرلومسوليت يی درلود. پيسي څه کارونه نه کوی؟ هلته يی زما خوله وتړله او دباندی يی د ديموکراسی پنامه د پرديپال تلويزن سره دټولو وضعی قوانينو خلاف زموږ د سپکاوی

اوکم راوستلو لړۍ د لوی څارنوال پوسیله په مخه بوتله. چې دهمدی تلویزیون اړوند دوه چلوونکی بیا په همدی تور محکوم هم شول.

لوری! د وخت اولس مشر په خلاصه خوله د رسینو له لاری اولس ته ستا د قاتل د غرغره کیدو ژمنه ورکړه، موږ داډه شولو چی د ۳۲میلیونی ملک د مشر ژمنه او قول دی!، مګر دا زه او ستا غم ځپلی مور وه چی نه پوهیدلو چی دلته د اولسمشر او دمحکمو د مخی د کرایی قسم خوړونکیو ژمني یو شی دی. وروسته را پته ولګیده چی د هیواد اولسمشر یی هم له هغوبهرنیو توروکځوړو خوری کوم چي ته یی راڅخه وخوړلی! نودلته می بیا هماغه پښتو متل سترګو ته کلک ودریدو کوم چی وایی: نیا یی چی په اوبو پرته وی نو اولادونه یی هم پکي پریوزی!

لوری ! یوي ښځینه څارنوالي ستا د دوسیي په اقامه کی داسی لیکلی وو؟ ښه ورته ځیر شه!: (دلایل که ثابت میسازد که قتل څانګه آماج توسط پدرش بنا بر احساسات پشتونولی صورت ګرفته که نمی توان از آن چشم پوشی کرد.(

لوری! یو ځلی داسی وخت هم راغی چی باید لاسپوځي دستګاه ستا د کرغیړن قاتل نیولو ته اړه شوی وای،مګر پوهیږی له هماغه ګاونډی ملک نه بیا راته تهدیدونه وشول چی پخپل وخت می په اصطلاح ملی امنیت ته په لیکلی بڼه خبر ورکړو چی تر اوسه پوری پسي ګرځي!!!. بل ځلی می همدغی ستری محکمی ته په پښتو ژبه عریضه ولیکله راته رد یی کړله بیا می تر هغی ترخه عریضه په دری ژبه ورته ولیکله چی زما غوښتنه یی سمدلاسه ورباندی ومنله. دیته وایی ژبنی برابری؟!!. اودغه زما او ستا ګناه ده؟!.

په سبب د ظالمانو حاکمانو- کوراو ګور او پیښور دری واړه یو دی.

لوری نور به څه درته ولیکم زما او ستا خواله نه تماميږي.خو زړه می ډیر ډک دی غواړم لږ ښی خبری درته وکړم لوری! لکه ستا چی لوړ غروردرلود اوزما شملی ته د ډیر پام وو همداسی هم زه ستا د پوړنی او پښتنی وقار خیال ساتم ستا د شهادت نه وروسته د ډیرودرنوخواخوږوترڅنګ د امریکی استاز ولی (سفارت) هم ور وغوښتلم او ستا د بی وخته مړیني او شهادت غمرازی یی راسره وکړه او هغه یی هم په لیکلی بڼه، بیا یی څوځلی په تکرار زما څخه وغوښتل چی آیا زه په امریکه کی پناه غواړم او کنه؟ چی ما ستا د لوړغرورپه درناوی رد کړه:

وړی تړی پروت پخپله بوریا ښه یم

نه په تخت د پاسه ناست د بل کره

لوری! زه او ته دواړه د زده کړو ډیر مینه وال وو. نو ښه زیری درته لرم: ستا یوه خور په هماغه پښتنی او اسلامی غرور اوس ماستری بشپړه کړه اود همدی را روان جولای په پای کی یی دیپلوم تر لاسه کړی، هماغه کشره خور د اوس په همداسی بڼه او کوړنی اصیلتوب د طب زده کړی په مخ بیایی او سږ کال اګست کی به انشاالله لاسوند تر لاسه کړی. هغه مشر ورور د اوس پخپلو پښو ولاړ او د علم د رڼا د لاری لاروی دی،همداسی هغه منځوی ورور د اوس په پوهنتون کی دکمپیوټرساینس پوهنځی کی اول نومره دی او تر ټول کشرورور د کوم چی ستا دشهادت په مهال یوازی پنځه کلن وو اوس د زده کړو تر څنګ اوس د کانکورتابیاکوی او ډیر ښه سپورت کوی او ډیر ښه د قرآنشریف تلاوت کوی او تل اول نومره وی ،خو لوری! ستا مور هغه ستا په سپیڅلو وینو رنګ پوړنی تل په خپل بالښت کی ساتی اوسروربادی ږدی لوری ټولی کیسی د نهیلی هم ندی ،ستا له تللووروسته ډیرو احساس لرونکو افغانانو له لر

اوبره ستا په ویرکی زموږ سره غمرازی وکړی ستا مینی اوبیا د دمړینی ناورین تولی ړندی پولی ماتی کړی او هغه د افغان اهل هنود غوره کړل شوی استازی (آغلی انار کلی هنر یار) تر ټولو زیات دربادی وژړل. ډیروزیاتو افغانانو درته خپلی ولولی د شعرونو په دود ډالی کړی

مګر یوازی د دولتی پلورل شویو ضمیرونو خاوندان دی چی حق نه وینی. خوته نهیلی کیږه مه ! موږ هوډ لرو چی ستا غچ به له هغه سوچ نه اخلو کوم چی دا وطن یی په ژبنیو،سمتی اوداسی ورته بریدونوویشلی.لوری په موږ باور ولره چی انشاالله پدی هیواد کی به سوله او ورور ولی راځی اونیاو به د ظلم ځای نیسی. اوبیا به ستا مزار ته د درناوی لپاره درځی نو زما د زړه ټوټي او پښتنی شملی ګله شکیباڅانګي آماج ستا د شهادت یوولسم تلین د په جنت وی تل زما په زړه او دوعاګانوکی یی.

د فلک لـه لاسـه چاتـه کـړم کوکار «««» ریـژوی هر ګـل چی خانـدی په بهار.

ستا په زړه زخمی پلار

**د خدای ببنلی شکیبا څانګی آماج شهادت په یودرشم می ۲۰۰۷ باندی پیبن شوی دی**